سلام خان ۲۰۱۱/۰۵/۰۸

# القاعده شبکی
## دخپل مشر وژل کیدل وروسته له شپږ ورځو تائید کړل




القاعده شبکې د خپل مشر اسامه بن لادن د وژل کېدو خبر تایید کړ او ګواښ يې وکړ، چې په لوېديځو هېوادونو به بريدونه وکړېد انصارالمجاهدين په نوم د القاعده شبکې وېبپاڼې د غويي په ۱۶مه د اسامه بن لادن د وژل کېدو د خبر پخلی کړی او له امريکايانو يې غوښتي، چې د اسامه د مړي سپکاوی ونه کړي او د هغه د کورنۍ مړي او ژوندي نيول شوي غړي دې په سعودي کې خپلې کورنۍ ته وسپاري، په وېبپاڼه کې ليکل شوي هغه کسان به له منځه يوسو، چې له امريکايانو سره يې د اسامه بن لادن په وژلو کې همکاري کړې او هم به په لوېديځو هېوادونو کې پراخ بريدونه ترسره کړی.

 تردی ډير ژر وروسته طالبانو هم د القاعده اړوندو وېبپاڼو تاييد کړه چې اسامه بن لادن وژل شوی دی، يوه اعلاميه خپره کړه او په هغې کې يې د شوروي اتحاد د سرو لښکرو پرضد د اسامه بن لادن د هلو ځلو د ستايلو په ترڅ کې ويلي دي چې د القاعده د مشر له وژل کېدو سره به د دوی هلې ځلې اغېزمنې نه شي،طالبانو د دوشنبې په ورځ په يوه لنډکۍ خبرپاڼه کې ويلي وو چې د اسامه بن لادن د وژل کېدو په باب د دې لپاره زيات څه نه وايي چې نه امريکايانو د هغه د وژلو په اړه کره شواهد وړاندې کړي او نه هم اسامه ته نژدې سرچينو په دې اړه تراوسه څه ويلي دي،خو وروسته له دې چې د القاعده هغو وېبپاڼو، چې امريکايي مقامات يې څاري، نن اعلان وکړ چې د دوی مشر وژل شوی او انتقام به يې له امريکا واخلي او د پاکستان خلکو ته يې د خپل حکومت پرضد د پاڅون بلنه ورکړه،بالاخره طالبانو هم د اسامه بن لادن مرګ تاييد کړي،سوشيټيډ پريس او نور نړيوال آژانسونه ليکی چې طالبانو خبری رسنيو ته يوه اعلاميه ليږلې او په هغه کی يې ويلی چې د اسامه بن لادن مړينه به د امريکا او ناټو پر ضد روان مقاومت نور هم تشويق کړی او صفوف به لا پسی غښتلی سی او راتلونکي جريانات به دا په اثبات ورسوی،

**له بله طرفه په اسلام اباد کی د ای، ایس،ای د مرکزي دفتر څخه دبن لادن دترور په اړه په معلوماتو کی ویل شوی دي چی تر ټولو دلچسپه معلومات ګڼل کيږې ویلی دی چی ، بن لادن خپل شخصي ساتونکي وژلې دی نه امریکايي ځانګړو ځواکونو دبن لادن او ساتونکي ترمنځ وار له مخې دا پريکړه شوې وه که چيرې دا کره او ثابته شوه ،چې بن لادن دتېښتې مخه نه ويني او دا امکان و ،چې امريکايي ځواکونه به يې ژوندې ونيسي نو دا مهال به ساتونکې پر بن لادن ډزې کوي،**

 دځينو رسنيو درا پور پر بنياد تېره دوشنبه ،چې ولسمشر اوباما د القاعدې تنظيم د وژلو خبر ورکړ دا په تېرو لسو کلونو کې دخپل ډول ۹ خبر و ،چې پخوا دیوشمېر هېوادونو ولسمشرانو په مختلفو مناسبتونو کې دبن لادن دمړينې په اړه خبرې کړې وې . د ټولو ولسمشرانو دخپلو څرګندونو لپاره دبن لادن روغتيايي حالت دسند په توګه وړاندې کاوه ،چې دسږو پر ناروغۍ اخته دی

دسپټمبر دیپېښې په اړه دحقیقت موندنې دټولنې مرستیاله ډیانا کاستيلو وايي : بن لادن نه دې وژل شوې ، بلکې هغه څو کاله وړاندې ترور شوې دی او اوس يې دترور يا مړينې خبر خپرول ددې لپاره ترسره شو ،چې په راتلونکو ټاکنو کې له اوباما سره مرسته وکړي

د ۲۰۰۱ ز په مۍ کې فرانسوي استخباراتو خبر ورکړ ،چې بن لادن دسږو پر ناروغۍ اخته شوې دی او په دوبۍ کې امریکايي روغتون ته ليږدول شوې دی او هلته ورسره دسي آی ای يو چارواکي هم ليده کاته کړې دي

د ۲۰۰۱ دسپټمبر د ۱۱پرماښام بن لادن دپاکستاني استخباراتو ترڅارنې لاندې په نظامي روغتون کې بستر و او د همدې کال په ډسمبر کې يې يو ويدويي پيغام خپورکړ، چې ناروغۍ کمزورې کړې و او خپل ګين لاس يې نشو خوځولې

د ۲۰۰۱ ز دډېسمبر پر ۲۶ مه نېټه فوکس نيوز دپاکستاني رسنيو دا خبر خپور کړ ،چې طالبان وايي : بن لادن مړ شوې دی او ۲۴ ساعته وروسته خښ شوې دی

د ۲۰۰۲ ز دجنورۍ پر ۱۸مه نېټه دپاکستان ولسمشر جنرا ل مشرف په ټينګار سره وويل : بن لادن مړشوې دی

د ۲۰۰۲ ز دجولای پر ۱۷ مه نېټه دترهګرۍ ضد ادارې مشر ډال واټسون ويلې و : زه باوري يم ،چې بن لادن اوس ترمنځ نشته ، خو ددې خبرې لپاره زه کوم کره دليل هم نه لرم


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د ۲۰۰۲ ز په اکتوبر کې افغان ولسمشر حامد کرزي له CNN سره په خپله مرکه کې دا خبره کړې وه زه اوس دا اټکل کوم ،چې بن لادن مړ دی

د ۲۰۰۵ ز په نومبر کې سناتور هاري ریډ ویلي و : کېدای شي بن لادن په ایبټ اباد کې داکتوبر دمشهورې زلزې پر مهال مړ شوی وي

د ۲۰۰۶ ز په سپټمبر کې دفرانسې استخباراتو یو ځل بیا خپل راپور خپور کړ او په پاکستان کې دبن لادن دمړینې خبر یې ورکړی و

دپاکستان پخوانی لومړۍ وزیرې بینظیر بوټو ،چې د ۲۰۰۷ ز د ډیسمبر پر ۲۷ مه نېټه پلازمینې اسلام اباد ته څېرمه ترور شوه نوموړې په خپلې یوې پخوانې مرکه کې دا ویلي و : بن لادن مړ شوی دی او قاتل یې خالد الشیخ دی ،چې اوس له امریکا سره بندي دی . هغه مهال شنونکو دبنیظیر بوټو دترور مهم لامل دده خپلې څرګندونې وبللې ،چې دبن لادن دمړینې په اړه یې کړې وې ځکه خو اوس یو شمېر شنونکي دبن لادن دترور په اړه شک لري

د ۲۰۰۹ ز په مارچ کې دبوسطن پوهنتون دنړیوالو اړیکو استاد او دامریکایي استخباراتو ډګروال ایګلو کوديولا ویلي و : داسې نښې نښانې شته ، چې موږ پر باور کولای شو او دا ویلای شو ،چې فیس بریسلي اوس هم ژوندی دی او اسامه بن لادن مړ شوی دی

د ۲۰۰۹ ز په مې ولسمشر اصف علي زرداري ويلي و : زه باور نه کوم ،چې بن لادن دې ژوندی وي ، خو

د ۲۰۱۱ز په مې کې ولسمشر باراک اوباما راپورته شو او دبن لادن دترور خبر یې ورکړ .

فرانسوي لیکوال تیري میسان وايي : دباراک اوباما حکومت ځکه دا وخت دبن لادن دترور یا وژلو لپاره غوره کړ، چې القاعدې دمنځني ختيځ په ناارامیو او انقلابونو کې راڅرګند نه شو دلیکوال له انده دا ددې **څرګندوې کوي، چې بن لادن وژل شوی دی او سپینه مانۍ اړ شوه ،چې نوره دبن لادن پانه واړوي**

اوباما ویلي، له اسامه بن لادن سره داسې عدالت وشو چې هغه یې لیاقت درلود،جمهور ریس اوباما په خپله وروستۍ مرکه کې ويلي، چې د اسامه بن لادن د جسد د (ډي. این. اې) ازموینه وشوه او نور په دې کې هیڅ شک نشته چې د پاکستان په ایبټ اباد کې د خاصو امریکایي ځواکونو په عملیاتو کې په خپله اسامه بن لادن وژل شوی دی،ولسمشر اوباما زیاته کړې، چې د القاعده د تروریستي شبکې د مشر د مړی دعسکونو د خپرولو پر عواقبو یې د دفاع او بهرنیو چارو له وزیرانو او د ملي امنیت د اداری له مسولینو سره خبرې وکړې او دې نتیجې ته ورسیدل، چې دا کار د امریکا ملي امنیت ته ستر تهدید متوجه کولای شي

د سپینې مانۍ یوه ویاند **جې کارني** په دې اړه، چې د نړۍ په ځینو هیوادونو لکه پاکستان کې خلک د اسامه بن لا دن وژل کیدو دخبرو په ریښتیولی باور نه لری وویل ،حقیقت دا دی، چې موږ نړیوال عکس العملونه څیړلي دي په دې کې هیڅ شک نشته چې ابن لادن وژل شوی دی. په دې کې د القاعده غړي هم شک نه لري،

موږ فکر نه کوو چې د یوه عکس خپریدل به په دې کې څه خاص تغیر راولي. البته، داسې خلک به وي چې د دې حقیقت له منلو انکار کوي خو مهمه دا ده، **چې څوک به نور پردې ځمکه د بن لادن پل ونه ګوري**

داسامه بن لادن دمرګ تر تائید وروسته پاکستاني رسنیو ویلی دی چې ښايي القاعده شبکه **حمزه یمني** د خپلو راتلونکي مشر په توګه وټاکي، القاعدې ته د نږدې سرچینو په وینا د ځایناستي د غوره کولو پرېکړه پخوا شوې ده، اسامه په ۲۰۰۰ زېږدیز کال په القاعده کې د شاملو ۱۲ هېوادونو جنګیالو او د تانزانیا،سوډان، یمن، سعودي او کویټ شورا ګانو پرېکړه کړې چې ایمن الظواهري به د اسامه بن لادن ځای ناستی نه وي.بلکې دی به د تېر په څېر د پوځي ډلې مشري کوي. اسامه بن لادن په خپل ژوند کې د شپږو کانونومونه د خپل ځایناستي په توګه په ګوته کړي،چې په هغه کې شیخ خالد محمد، محمد عاطف احمد، محمد زبیده، محمد حمزه یمني، محمد زومیر زرقومي او محمود تلمساني شامل دي. دوی کې نور وژل شوي او یا هم بندیان دي یواځې محمود تلمساني ژوند دی او په افریقا کې د القاعده ډلې مشري کوي.

داسې امکان شته چې **محمد حمزه یمني** به د اسامه بن لادن ځایناستي شي، حمزه یمني په کینیا کې د امریکا پر سفارت برید کړی و.عربي سرچیني وايي چې د القاعده مشرتابه به افریقا ته انتقال شي،ځکه چې یواځې اسامه بن لادن په افغانستان کې پاتې کېدل غوښتل

دامریکا دبهرنیو چارو وزیره **میرمن کلنټن** هم مخکې په خپلو څرګندونو کې ویلي وو چې : زه باور نه لرم، چې ډاکټر ایمن الظواهري به دبن لادن دځایناستي په توګه وټاکل شي، دسي ای ای پخوانی مامور باټ لانګ هم وایلي وو چې اوسمهال دایمن الظواهري او سختدریځي بل مشر **انور العولقي** ـ امریکایي تابعیت هم لري ـ ترمنځ ستونزو او اختلافاتو سر راپورته کړې دی دلانګ دمعلوماتو له مخې دالقاعدې نور مشران دالظواهري په پرتله انور العولقي غوره بولي ځکه نوموړې په عربي نړۍ کې ډیر پلویان لري لانګ دا هم زیاته کړې ده، کېدای شي القاعده خپل مشر وټاکي او دهویت په اړه یې همداسې چوپه خوله پاتې شي. سلام خان

**نوټ** : پورته مطلب په انترنیټ کې د ټولو ورستنیو معلوماتو په استفاده ترتیب شوی دی.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ